ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۷/۰۱/۰۵

هندوان موږ شو، ګوړې بل څوک وخوري!

کله چې شورویانو پر افغانستان باندې حمله وکړه اشغال یې کړ داسې آوازې وې چې د شوروی موخه یا تارګیټ د هند ګرمو اوبو ته ځان رسول دی افغانانو همهغه وخت یو ښه چانس له لاسه ورکړ چې د موقع یې ګټه پورته کړی وای تر څو یې خپله خاوره چې پنجاب وراندې خیټه اړولې دی، پښتونستان خپل کړی وای همدارنګه یې افغانستان د اوبو سره تړلی وای کوم چې اوس په وچه کې راګیر دی، اوبو ته یې لار نشته، برعکس همدغه افغانانو د روس مخه ونیوله پاکستان یې د پنجابیانو لپاره د خپلو وینو په زور وساته روس یې پرې نښودا چې وړاندې لاړ شی.
خو پاکستان یې په مقابل کې بیا داسې بازی وکړه چې نه یوازې تر اوسه یې د افغانانو خاوره پښتونستان په خپله قبضه کې دی، افغانستان یې د افغانانو په لاسونو خپ پچ کړ همدارنګه یې د افغانانو د سرونو په زور له نړیوالو دومره شتمنۍ تر لاسه کړه چې اتوم بم یې هم وربانديې جوړ کړ چې په نتجه کې یو قدم نور هم وړاندې شو په داسې حال کې چې افغانستان یې څو قدمه د افغانانو پر لاسونو شاته وغورځوه، نړدې څلویښت کاله یې افغانان د اسلام په نوم وغولول او لا یې غولوی په آخر کې همدغه پاکستان روس ته ورغی.
ورپسې کله چې امریکا پر افغانستان باندې حمله وکړه افغانستان یې اشغال کړ تر ۱۳۰ میلیاره ډالرو پورې پیسې یې زموږ په هیواد کې خرڅ کړې بیا هم موږ دومره هم ونه شو کولای چې له همدغه پیسو مو سمه ګټه پورته کړی وای داسې بنیادي پروژې مو وربانديې جوړې کړې وای چې حد اقل خپل عسکر ته خو مو نن د خپلې جیب څخه معاش ورکولای شوای او د بل له محتاجۍ خو خلاص شوی وای.
خو پاکستان بیا برعکس طالبان چې دوی پاکستانیان یې تر شا ولاړ وو لاس تړلی پر امریکا د ملیاردونو ډالرو په مقابل کې خرڅ کړل او امریکا ته یې په لاس کې ورکړل چې په ګوانتانمو کې یې ځینې تر اوسه هم بې له محکمې بندیان دی بیا ګټه پورته کړه.
کله چې اوس په سیمه کې سیاست تغیر خوړلی او پاکستان په دې پوه شو چې نور د امریکا څخه د ګټې دروازې بندې شوې دی، هغه وو چې ډیر په مهارت یې بازي ته تغیر ورکړ د داعش د پروژې د نوم څخه کومه چې په نړیواله سویه په کار اچول شوې موازې او هم نومه پروژه خلاصه کړه ورڅخه یې ګټه واخستله تر څو روس، ایران او چین چې له وړاندې له همدغه نوم څخه د خطر احساس ورسره و، قناعت ورکړی او ورته ووایی چې بلا خو رانږدې شوه ، په همدغه پلمه یې په سیمه کې بل ایتلاف رامنځ ته کړ او طالبان یې هم د ځان سره یوړل تر څو د همدغه نوی ایتلاف(پاکستان،ایران، چین او روس) د ګټو په دفاع کې یې وجنګیوی.
دلته باید یوه یادونه او سپینوی وشی هغه دا چې دا د پاکستان داعش چې «ای اس ای» جوړ کړی دی د عراق او سورې د داعش سره هیڅ اړیکه نه لری لومړی یې د طالبانو سره وجنګول ډیر طالبان یې په ډیره بې رحمانه توګه وربانديې مړه کړل چې په همدې ډول یې د طالب او د «ای اس ای» د داعش په نوم ډلې تر منځ سخته دښمني رامنځ ته کړه تر څو طالب ته قناعت ورکړی چې داعش د دښمن دی غواړی طالبان له منځه یوسی، خو طالب بیا په دې نه پوهیږی چې له ځانه دا پوښتنه وکړی چې:

دعراق او سوری داعش سره زموږ کوم پوله او پټې شریک دی چې ما نه پریږدي او دښمنی راسره کوی؟
راځم اصلی موضع ته هغه دا چې: موږ افغانان څنګه کولای شو تر څو د سیمې همدغه نوی معادله د خپل هیواد په ګټه وڅرخوو؟
په بې طرفۍ کې خو مو هسې هم څوک نه پریږدي، افغانانو ته پکار ده چې د معادلې درندې خوا ته ځان واچوی چې هغه امریکا او هند دی.
افغان سیاستوالو ته {که وی؟}، په کار ده چې د بلوچستان موضع امریکایانو ته وړاندې کړی او دا سیمه د پاکستان څخه جدا کړی په دې سره به افغانستان اوبو ته لار پیدا کړی او کله که بلوچستان آزادې واخستله نو پاکستان له منځه ځی ځکه پښتونستان، سیند او پنجاب په ډیر نري تار تکیه دي، چې دا د هند غوشتنه هم ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چی پاکستان مات شی معنی دا چی افغانانو خپله خاوره پښتونستان وګټه، او بل خوا به ټوله نړۍ د دغه سرطان له رنځ پاکستان څخه خلاص شی، همدارنګه امریکا چی اوس په افغانستان کی دایمی اډې لری هم باید د پاکستان په له منځه وړلو غور وکړی، ځکه چی همدغه پاکستان دی چی دا نوی ایتلاف(پاکستان،چین،روس) یی رامنځ ته کړ.
که امریکا دا کار ونه کړی پاکستان له منځه یونسی او په افغانستان کی پاتی کیدلو ته دوام ورکوی ورته به ډیره ګرانه وی چی دا پاتې کیدل یی ډیر دوام وکړی، دا ځکه یو خوا د جګړی شکل تغیر کوی او بل خوا پر امریکا د ځمکی لخوا لاری بندې شوی، ځکه د ایران او پاکستان لاری خو وربانديې وتړل شوی.
د امریکا او افغانستان لپاره د پیل نقطه د ګوادر بندر دی چی شروع وکړی، دا کار د بلوچانو په مرسته په آسانۍ سره تر سره کولای شی، ځکه بلوچان هسی هم د پاکستان سره نه غواړی پاتی شی، هغوی آزادې غواړی. په دې ډول به یو خوا چینایان له سیمی وشړی او بل خوا به په افغانستان کی د اډو لپاره د ځمکی او اوبو لار ومومي چی افغانستان به هم تری ګټه اخلی.
نو ځکه ویلای شو چی د افغانستان لپاره یو ښه طلایی چانس برابر شوی دی باید ورڅخه ګټه و اخلی.
افغان سیاستوالو ته په کار ده چی دوه خبری امریکایانو ته وړاندې کړی.
۱ -امریکایان د نیټه مالومه کړی تر څو د افغانستان څخه ووزی همدارنګه د طالبانو سره د روغه جوړه وشی.
۲ -که دا کار شونی نه وی امریکا په افغانستان کی پاتې کیږی، افغانان باید پر امریکا دا ومنی چی سمه مرسته یی وکړی ځکه دا نوی لوبه د امریکا چی په افغانستان کی پاتی کیدل غواړی پر سر روانه ده ګنی د افغانانو یی په څه؟
که افغان سیاستوال هم د امریکا څخه ځان نه شی خلاصولای او هم امریکا ته د پاکستان د ټوټه کولو پر اړتیا چی دواړه خوا (افغانستان، امریکا) یی ورته لری قنعات نه شی ورکولای دا ستر خیانت دی چی دا تش په نوم افغان سیاستوال یی د خپل ولس پر وړاندې تر سره کوی، چی تاریخ به یی هیڅ له یاده ونه باسی، همدارنګه به زموږ هیواد د یوې بلی لوی جګړی او د سترو قدرتونو د زور ازموینی په دوامدار ډګر بدل شی.

منته

2017/01/4

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ